# مطبوعاتي خبرپاڼه

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره
مرکزي دفتر، شاه محمود غازي واټ، کابل افغانستان

## د قانون کمزورې واکمني په افغانستان کې د بشري پرمختیا خنډ ګرځي

## احمدضیا مسعود او بو اسپلوند د افغانستان د ۲۰۰۷ بشري پرمختیا ریوټ خپرېدو ته وړاندې کړ

کابل، ۲۷ لړم ۱۳۸۶
"عدلي سیستم باید په افغانستان کې داسې ورغول شي چې دودیز او عصري عدلي بنستونه سره ونښلوي، د وګړو حقوق خوندي کړي، د قانون واکمنۍ پیاوړي کړي او په دغه جګړې ځپلي هېواد کې سیاسي بدلون او پرمختیا ته لار اواره کړي" د ا د افغانستان د ۲۰۰۷م بشري پرمختیا ریوټ یوه مهمه سپارښتنه ده. دغه ریوټ نن د افغانستان د ولسمشر د لومړي مرستیال ښاغلي احمد ضیا مسعو او د ملګرو ملتونو د ځانګړې استازي د مرستیال او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د استګون استازي بو اسپلوند له خوا د یوې غونډې په ترڅ کې په رسمي توګه خپور شو.

'د عصري او دودیزو بنستونو نښلونه: دقانون واکمني او د عدالت لټون' د افغانستان دویم بشري پرمختیایي ریوټ دی. دغه ریوټ، چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې او افغان دولت ګډ نوښت دی، په هېواد کې د قانون د واکمني او بشري پرمختیا اهمیت پلټي. ریوټ د عدلیې په رسمي سیستم کې د بشري او مادي سرچینو غټ کمبودات په ګوته کوي او د لانجو د اغیزمن اواري لپاره د عدلي سیستم د پیاوړتیا غوښتنه کوي. په ریوټ کې د داسې دورګه عدلي سیستم د رامنځته کېدو لپاره کلک دلیلونه وړاندې شوي چې د لانجو د اواري له دودیز سیستم لکه جرګو او مرکو څخه د رسمي عدلي سیستم تر څنګ ګټه اخستل کېږي.

د افغانستان د بشري پرمختیا شاخص (۰.۳۴۵) چې د پوهنې، روغتیا او اقتصادي سوکالۍ کچه اندازه کوي افغانستان د بشري پرمختیا د نړیوال شاخص په لېست کې د نړۍ تر ټولو ښکته پنځو هېوادونو په لیکه کې دروي چې پرته له افغانستانه نور ټولې یې د افریقا په لویه وچه کې پراته دي.

افغانستان د زرېزې اته نړیوالي موخې، چې د سختې بېوزلۍ او لوږې د نیمایي کولو موخه هم پکې شامله ده، د زرېزې پر نهو افغاني موخو اړولي دي. له ۲۰۰۲م کال راهیسې افغانستان په اقتصادي ډګر کې ښه وده کړې او تر ۲۰۲۰ پورې یې د بېوزلۍ د نیمایي کولو د موخې لاسته راوړنه شوني ده. خو د نورو موخو د لاسته روړنې انځور ناهیلی کوونکی دی. ۶,۶ میلونه یا په هرو درې افغانانو کې یو د خوراک لپاره کافي خواړه نه لري. نږدې نیمایي د وګړو د خوارکي توکو له پلوه خپل ځان نابسیا ګڼي.

هېواد د ښځو د سیاسي استازیتوب له پلوه د سوېلي اسیا له ډېرو ګاونډیو وړاندې دی او د ولسي جرګې نږدې ځلورمه برخه د ښځو لپاره بېله شوې ده. خو د ښځو او نارینه وو د عاید تر منځ ستر توپیر لېدل کېږي، په منځنې ډول نارینه د ښځو په پرتله څلور چنده پیسې ګټي. په سلو کې یوازې ۱۲ ښځې باسواده

(لوستي) دي او د دوی په پرتله په سلو کې ۳۲,۴ نارینه لوستي دي. د وګړو ۱۵ کلن او تر ۱۵ کلونو زیات عمر لرونکو کسانو یوازې په سلو کې ۲۳,۵ لیک لوست کولای شي. د ښځو او ماشومانو په وړاندې ناانصافي هم د لومړنی روغتیا پالنې او د زدکړې له خدمتونو څخه د بې برخه کېدو او د کار د فرصتونو د نشتوالي له پلوه او هم د کورنې تاوتریخوالي له پلوه د هېواد د زرېزې د پرمختیایي موخو د لاسته راوړنې په وړاندې مهم خنډ ګڼل کېږي.

د پام وړ پرمختګ سره سره، د ماشومانو تر پنځه کلنۍ وړاندې مړینه او د امیندوارۍ په عمر کې د میندو مړینه ډېره لوړه ده. همدارنګه له درېوو نه یوازې یوه کورنۍ پاکو اوبو ته لاسرسی لري او له ۱۹۷۸م کال راهیسې ځنګلونه نیمایي ته راکم شوي دي.

په ۲۰۰۴م کې افغان دولت اټکل کاوه چې د راتلونکو اوو کلونو لپاره ۲۷,۵ میلیارده ډالرو مرستې ته اړتیا لري چې د سرې سر ۱۶۸ ډالره کېږي. خو د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۵ تر منځ مرسته له ټاکلې موخې څخه ډېره کمه او د کس پر سر شا او خوا ۸۳ ډالره وه. له ۲۰۰۶م کال راهیسې مرستندویانو (ډونرانو) د ۱۰ میلیارده ډالرو مرستې ژمنه کړې چې یوازې نیمایي د هغو پیسو دي چې د دولت په باور د دولت د پرمختیایي تګلارې د پلې کولو لپاره ضروري دي. دغه رپوټ له همدې امله له مرستندویانو ټینګه غوښتنه کوي چې له هېواد سره د زرېزې د پرمختیایي موخو د لاسته راوړنې لپاره پر خپلو ژمنو ودرېږي.

ښاغلي بو اسپلونډ د رپوټ د خپراوي په مراسمو کې د وینا پر مهال وویل: " د رپوټ موندنې ښيي چې افغانستان له څو لسېزو جګړې سره سره د بشري پرمختیا د مهمو اړخونو په برخه کې او همدارنګه د پرمختیایي موخو په لور تګ کې د پام وړ پرمختګ کړی دی." ده زیاته کړه "په یو هېواد کې د تاوتریخوالي او ناڅرګندتیا د سیوري له ورکېدو سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بشري ودې او ژوندانه د ښه کېدو اړتیا تر هر بل وخته ډېرېږي." ده زیاته کړه" د افغانستان په وړاندې پرتو ننګونو سره سره دغه رپوټ مخ په وړاندې تګ کې یو ستر ګام ګڼل کېدای شي. موږ باور لرو چې د دې رپوټ نظریات به د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې په پراختیا کې مرسته وکړي چې همدا اوس تر لاس لاندې ده."

رپوټ د ځاني امنیت مساله په افغانستان کې د ټاکل شوو موخو د لاسته راوړنې په وړاندې د ستر خنډ په توګه په ګوته کوي. په ۲۰۰۶م کې د ۱,۰۰۰ ملکي وګړو په ګډون ۴,۴۰۰ افغانانو په دولت ضد روان تاوتریخوالي کې ژوند له لاسه ورکړی چې د ۲۰۰۵م کال په پرتله دغه شمېره دوه چنده ده. همدارنګه په رپوټ کې راغلي چې "امنیت د قانون د واکمنۍ لپاره لومړنی شرط دی چې په خپل وار د بشري پرمختیا لپاره مناسبه فضا رامنځته کوي. د قانون واکمني د خلکو د ازادۍ د ودې یوه مهمه وسیله ده، داسې ازادي چې له خپلې خوښې کار واخلي او د یو ګټور او سالم ژوند لپاره خپله وړتیا لوړه کړي."

په رپوټ کې د پخلاینې او د تېرو بشری حقوقو د سرغړونو تر منځ د جوړجاړي پر اړتیا رڼا اچول شوې ده. د رپوټ له مخې د یوې سروې په هرو دروو برخه والوو کې د دوو ځواب دا و چې یا خو پخپله او یا یې د کورنۍ غړی نېغ په نېغه د تېرو دوو لسېزو د ناانصافي او بشري حقونو د سرغړونو ښکار شوي دي. د بشري حقونو د سرغړونو او د جنګي جرمونو لومړني قربانیان ښځې، ماشومان، او توکمیز او مذهبي لږکي (اقلیتونه) وو.

د نشه يي توکو خپرېدونکې سوداګري د سیمې پر سیاسي او ملي امنیت سختې اغېزې لري. د کوکنارو کښت په ۲۰۰۶ کې په سلو کې ۶۱ پورته ختلی او افغانستان د نړۍ په سلو کې ۹۰ اپین تولید کړي دي. "د اپینو اقتصاد د اداري فساد سرچینه ده او د دولتي بنسټونو په ځانګړې توګه د امنیتي او عدلي

سیکتورونو پښې سستوي." رپوټ زیاتوي چې که د افغانستان اوسني اداري فساد ته پاملرنه ونشي نو تر دې دمه ترلاسه شوې لاسته راوړنې او د افغان دولت او د نړیوالې ټولنې د مرستې مشروعیت به ورژوي.

د روڼتیا د نړیوالې ادارې د ۲۰۰۴م د ادري فساد په شاخص کې افغانستان د ۱۵۹ هېوادونو په لیکه کې ۱۱۷م و.اول محکمې او بیا د دولت نورې اداري څانګې پر اداري فساد ډېرې ککړې ګڼل کېږي. رپوټ په دې اند دی چې په افغانستان کې خپور اداري فساد د قانون واکمنې له ګواښ سره مخ کوي.

د ځمکې ملکیت او د جایداد د حقوقو د خوندیتوب ستونزه نور هغه خنډونه دي چې د قانون د واکمنۍ په لار کې پراته دي. د عدلیي کارمندانو ته کمه تنخا ورکول کېږي او ډیر یې مسلکي وړتیاوې هم نه لري. د دې برسېره، د رسمی عدلي سیستم ډېرې مهمې برخې بېخي فعالیت نه کوي. ټولې دغه ستونزې د افغان عدلي سیستم د اغیزمنتیا او ګټورتیا مخه نیسي.

په دودیز سیستم کې پر چټکتیا او پخلاینې ټینګار کېږي او غواړي چې سرغړوونکی بېرته په ټولنه کې ځای پر ځای شي. د سږنې کال په سر کې د ترسره شوو سرویګانو کیفیتي معلومات چې په رپوټ کې هم شامل دي ښیي چې افغانان جرګې او شوراګانې د رسمي محکمو په پرتله د عدالت په وړاندې کولو کې ډیرې ګټورې، لږ فاسدې او ډېرې د باور وړ دي. ښځې بیا له بل پلوه هم په رسمي او هم په غیري رسمي سیستمونو کې بایلونکې دي. دوی ته اکثراً عدالت ته یو برابر او منصفانه لاسرسی نه ورکول کېږي ځکه چې دوی په خپله قضیې نشي ثبتولی. دودیز سیستمونو له دې هم ډیر ناانډوله دي لکه "بد" چې د تحمیلي ودونو له امله له بشري حقوقو څخه ښکاره سرغړونه ده.

که څه هم رپوټ رسمي عدلي سیستم ته د اوږې ورکولو لپاره، چې نوی په پښو درېږي، د لانجو د اوارې بدیل سیستم ضروري ګڼي، د بشري حقوقو د څارنې په پلوي کې هم کلک دلایل وړاندې کوي او په دې باور دی چې د جرګو او شوراګانو پرېکړې باید د بشري حقوقو د اصولو او د افغانستان له اساسي قانون سره برابرې وي.

د افغانستان ملي پرمختیایي تګلاره، چې د ۲۰۰۸م تر نیمایي پورې به په ټولو ۳۴ ولایتونو کې له ځایي سلامشورو نه وروسته بشپړه شي، مني چې ښه حکومت چلونه، عدالت او د قانون واکمنې د پرمختیا لپاره اړین شرطونه دي او د مشروع حکومت، د ولس د حقوقو د خوندیتوب او د رقابتي بازار د اقتصاد بنسټ جوړوي. دغه تګلاره همدارنګه دولت د داسې فعال عدلي سیستم جوړولو ته ژمنوي چې د ټولو افغانانو لپاره د لاس رسېدو وړ وي.

د افغانستان د بشري پرمختیا رپوټ د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې په مرسته د کابل پوهنتون د پالیسي او بشري پرمختیا د مرکز د نامتو شنونکو تر مشرۍ لاندې د خپلواکو څیرونکو د یوې ډلې له خوا د ابتدایي او ثانوي (کیفیتي او کمیتي) معلوماتو او له ټول افغانستان نه د ولسي وګړو نه راټولو شوو سلامشورو پر بنسټ جوړ شوی دي.

---

**د ۲۰۰۷م کال د بشري پرمختیا رپوټ په هکله د لاډیرو معلوماتو لپاره www.undp.org.af یا www.cphd.af ته سر ورښکاره کړی.**